پوهــــــــندوی مستعلی (نیازي)
د ښوونې او روزنې پوهنځی استاد

# د لغمان د نامه ریښه یی سپړنه

**لنډیز :**

د لغمان نوم د تاریخ په اوږدو کې په مختلفو بڼو ثبت شوي او د نړی لویو فاتیحو لکه سکندر مقدونی ، گوډتیمور ، بابر او نور له دي سیمي څخه تیر او هند ته رسیدلي دي . دغه نوم په تاریخی کتابونو کې د لمپاکا ، لمباتا ، لمقان او نور بڼو ثبت دي . په نومړي مقاله کې کوښښ شوي چې د لغمان نوم ریښه په هر اړخیزه ډول وڅیړل شي ..

**سریزه :**

د لغمان ولایت نوم د تاریخ په مختلفو دورو کې په مختلفو نومونو یاد شوي او د تاریخ په کتابونو کې د دې نوم د ترکیبي کلمو په اړه هم ځانګړي نظریات لیکل شوي دي .

د سکندر مقدوني له یرغل څخه را په دي خوا د مختلفو حدودو لرونکې و . چې کله نا کله د کابل او په را وروستو کې د مشرقي ولایتونو په ډله کې د ننگرهار د نایب الحومکۍ یو اداري و چې وروسته بیا جلا ولایت شو . دا ولایت د هیواد د نورو ولایتونو په څیر لرغونی تاریخ لري . او د گندهارا د نورو اداري واحدونو لکه کونړونه ، اسمار ، ننگرهار ، پیښور ، ټاکئیلا ، لمباکا څخه یو اداري واحد [illegible] . په تاریخ کې لمپاکا [illegible] یاد شوی دی [illegible] او [illegible] مشتمل دي . چې تگري (تیرگړي) مندروړ او چهارباغ یې له مهمو قریو څخه شمیرل کیږي . (۴ مخ ۶۹)

## د لغمان د نوم ریښه :

د لغمان ولایت په جغرافیایي حدودو کې له پخوا زماني تر اوس مهال پوري زیات بدلون منځ ته راغلي دی . د لغمان ولایت د ننگرهار شمال ته پروت دی چې په کولتوری لحاظ او د طبیعی پیدا وارو له امله ننگرهار ته ورته دی . هیوان تسنگ دغه ولایت په خپلو یادښتونو کې د لمغان ، لقمان او لمپاکا په نومونو ثبت کړی دي . بطلیموس لغمان د

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمپاکا په نوم یاد کړی دی . نوموړی ولایت کله په کابل او کله هم په ننګرهار ( مشرقي ولایتونو ) پوري مربوط و .

د غازي امان الله خان د واکمنۍ پر مهال لغمان د مشرقي لوي ولایت چې مرکز یې جلال اباد و کې شامل او لومړي درجه حکومت ( حاکمي ) در لوده . په دې حکومت کې د الینګار ، الیشنګ ، قرغیو ، مندراوړ او عزیز خان کڅ سیمی شاملي وې . قرغه یې ، مندروړ ، عزیز خان کڅ ، الینګار او الیشنګ یې لومړۍ درجه علاقه دارۍ ( اداري واحدونه ) او مرکزي سیمي د لغمان د حاکم له خوا نیغ په نیغه اداره کیدلې ، د لغمان مرکزي سیمی لکه قرغه یې ، عزیز خان کڅ ، مندراوړ ، الینګار او الیشنګ دري په کښي شاملې وې . په لومړیو وختونو کې نورستان د لغمان په حدود کې شامل نه و. خو وروسته د نورستان لویدیځې سیمې د لغمان په حدود کې شاملې شوې او د لغمان په حدود کې هم بدلون منځ ته راغی . یو وخت د لغمان په لوی حکومت کې قرغه یې ، لویدیځ نورستان ولسوالۍ د الیشنګ ، الینګار او عزیز خان کڅ علاقه دارۍ او مرکزي سیمې د لوی حکومت مربوط وې . ( ۲ مخونه : ۵۲ _ ۵۳ )

په ۱۳۴۳ ل کال د افغانستان د نوي اداري تشکیل په اساس د لغمان ولایت هم د لوی حکومت څخه ولایت ته لوړ شو او شرقي ، نائیب الحکومه حکومت په دري ولایتونو لغمان ، ننګرهار او کونړ باندي وویشل شو . په دغه وخت کې د لغمان د ولایت اداري واحدونه د الینګار ، الیشنګ ، نورستان ولسوالۍ د عزیز خان کڅ علاقه داري ( د قرغیو د ولسوالي مربوط وه ) او مرکزي سیمي د ولایت مرکز مربوط وې . په ۱۳۵۳ ل کال د عزیز خان کڅ علاقه داري له منیځه ولاړه په عوض یې د الیشنګ په ولسوالۍ کې د دولت شاه علاقه داري تائسیس شوه او په دې اخرو وختونو کې د نورستان ولایت تاسیس شو چې د نورستان ولسوالي د ټولو مربوطاتو سره د لغمان له ولایت څخه جلا او نورستان ولایت سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځاي شوي . د استاد رباني د واکمنۍ په وخت کې د دولت شاه علاقه داري ولسوالۍ ته لوړه شوه چې اوس لغمان د کابل ، کاپیسا ، پنجشیر ، کونړونو ، نورستان او ننګرهار په مینځ کې موقعیت لري . ( ۲ مخونه ۵۳ _ ۵۴ )

په ۱۹۲۷ زیږدیز کال د لغمان ولایت اداري مرکز د سرخکانو د پل پواسطه د کابل جلال آباد لوی لارې سره وصل شو . ( ۳ مخونه ۴ – ۲۴ )

د نړۍ یو شمیر یرغلګرو لکه سکندر مقدوني ( ۳۵۲ - ۳۲۳ ) امیرتیمور ، ګورګاني ( ۷۳۷ _ ۸۰۷ هـ ق ) بابر ( ۸۸۸ _ ۹۳۷ ) هـ ق د همدې لغمان له وادي څخه تیر او هند ته رسیدلي دي . ( ۲ مخ ۱۰ )

د لغمان په اړه لومړۍ ځل په ۱۳۸۳ هـ ش کال د ډیوه وال له خوا د کابل په مجله کې یوه مقاله ( لغمان وپیژنئ ) نشر شوه . نوموړي په خپله مقاله کې د لغمان ولایت د مختلفو نومونو لکه : لاماګان ، لام پاکا ، لام پو یادونه کړې ده . همدارنګه پوهاند صدیق الله رښتین ( ۱۲۹۷ _ ۱۲۸۷ ) هـ ش لیکلي دي . (( چې د لغمان کلمه په ډیرو کتابونو کې د لمقان په بڼه لیکل شوې خو پخوا یې دې سیمي ته د لمپاکا ویلي چې لمپه یا ( لمبه ) د روښانه او کا دظرف یا ځای معنی ور کوي چې لمپاکا هم د روښانه ځای معنی ور کوي . ( ۲ مخونه ۱۳ ، ۱۴ )

هیوان تسنګ ( ۲۳۰ ) د لغمان سیمه د لان پو ( Lian po ) ابوریحان البیروني ( ۲۲۳ _ ۴۴۰ هـ ق ) په خپلو اثارو ماللهند او قانون مسعودي کې د لنبکا یا لنبګا ، حدود لعالم ( تالیف ۳۷۲ هـ ق ) او تاریخ یمیني لمغان په بڼه لیکلي دي . خو په ځینو عربي لیکنو او معجم البلدان کې د لامغان په شکل راغلی دی . په دایارلسمې ا څوارلسمې پیړیو په لیکنو کې د لغمان نوم په تکرار سره د لقمان اولمقانات په بڼه لیکلی دی . خو د امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د لغمان ولایت اصلي بڼه ( لغمان ) ولیکل شو . خو په ځینو اثارو لکه دا خوند درویزه ( ۹۴۷ _ ۱۰۲۸ هـ ق ) اثر تذکرة الابرارو لاشرار د خوشحال خټک او د هغه لمسی افضل خان خټک

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاریخ مرصح کې د لغمان نوم په خپلې اصلي بڼه لیکلی دی . د لغمان په اړه ځینې لیکنې تقریباً (۴۰۰) څلور سوه کاله لرغونتوب لري . (۲ مخونه ۲۰ _ ۲۱)

د لغمان ولایت چې د لامکان ، لمګان ، لاپو ، لنباکا ، لامپاکا ، رام پاکا ، لمباکا ، لامغان ، لمغان ، لمقان ، لمقانات ، لمغانات او په نورو نومونو یاد شوي چې د لام اولاما کلمی په پشه ئي ژبه یې د کلي معنا ور کوي چې په لامپاکا کې لام د کلی او پاکا د هغه چا نوم دي چې دا کلی ورته منسوب دی . او لغمان ، لامکان او لامپاکا یې نوې بڼې دي . څکه د لام کلمه لکه په نور لام ، مهترلام ، او نګه لام ، لام ټک (لمټک قلعه ټک او نورو سیمو په نومونو کې د لام کلمه د کلي په معنی استعمال شوي ده . او کله دغه لام د رام په بڼه هم لیکل شوي لکه ګلارام کونټته رام او شمررام . (۵ مخونه : ۲۰۸ _ ۲۰۹) ښایې د دې نوم دومره لفظي بدلونونه د تاریخ لیکونکود لهجوي ژبنی اغیز له امله وي .

مقدونی سکندر د افغانستان د شمالي ولایتونو له نیولو وروسته دوهم ځل د هندوکش جنوب د پنجشیر د سیند په اوږدو کې له کاپیسا څخه د نجر او اوتګاوله لاري لمپاکا یعنی لغمان ته را ورسید . چې د مندروړ او چارباغ تر مینځ تر قرغیو ته نږدې یې د نیکا په نوم یو ښار ودان کړ او هغه په لمقان کې خپل پوځ په دوو برخو وویشه چې یوه برخه یې له لغمان څخه د ده په مشرۍ د کنړ له لاري د صوات او باجوړ په لور او د لنبکر دوهمه برخه یې د جنرال پرویکاس په مشرۍ د کابل او لغمان سیند جنوب اړخ ته خیبره پوري لاړل . په سیند (اباسین) یعنی اټک کې سره یو ځای شول همدارنګه د شله ټک د غره په لمن کې یو ډبر لیک په (۱۳۴۸) لمریز کال کې کشف شو . چې په هغه کې د ارامي لیکدود څخه دا جوتیږي چې دا ډبرلیک د اشوکا د واکمنۍ پر مهال کښل شوي دی . په دې ډبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک کې د لمکان جتی (Lemekan Jati) * نوم لیکل شوی چې لمکان او لمغان د اوسني لغمان ( په لفظي اغیزه سره ) دي . ( ۱ مخونه : ۱۸۰ _ ۱۸۱ )

گوډ تیمور د پنجشیر له لارې لغمان ته راغلی و . غوښتل یې چې بلورستان ( نورستان ) ته لاړ شي خو بریالي نشو او حو په الیشنگ کې یې د ناجل ( نجیل قلعه ) جوړه کړه . امیر حبیب الله خان هم الیشنگ ته د یو ډبرلیک د لیدنې له پاره راغلی وه چې عکس یې د ( ۱۹۱۷ ) زیږدیز کال د مارچ ۲۵ مه ۱۲۹۲ لمریز کال د وری ( حمل ) په پنځمه د سراج الاخبار په جریده کې چاپ شوی دی . ( ۱ مخونه : ۱۸۹ _ ۱۹۰ )

## د لغمان نوم په تاریخی لیکنو کې

۱ _۱۳۳۸ لمریز کال د کابل په مجله کې یوه مقاله لغمان وپیژني نشر شوي چې د لغمان د نوم په اړه مطالب یې نشر کړي دي .

۲ _ پوهاند صدیق الله ریشتین هم په یوه لیکنه کې د لغمان د نوم د ترکیب په اړه معلومات .

۳ _ جنرال کنگهم په خپل اثر ( د هند جغرافیه ) کې د لغمان د نوم د ریښې د تاریخي سوابقو په اړه علمي معلومات نشر کړیدي ، بطلیموس هم لغمان د لمباتا په نوم یاد کړی .

۴ ( محمد پادشاه د التدارج په فرهنگ کې ( ۱۳۰۵ ) هـ ق کال تالیف شوي د لغمان د نوم د ترکیب په اړه معلومات نشر کړي دي .

۵ _ استاد حبیبی هم په خپل اثر ( تاریخ خط ) د لغمان نوم د لمکات جتی په نوم لیکل دی .ℜ

---

* جتي : په سنگریت ژبه کې د جتي کلمه د مرید ، مخلص او دیني مبلغ معنی ور کوي .
۲ مخ ۱۲

ℜ جتی ، مخلص ، مرید او مذهبی مبلغ معنی ور کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ - چینی زایر او سیاح هیوان تسنگ په ( ۲۳۰ ) ز کال د اگست په میاشت کې د لغمان سیمه لیدلې او د اسیمه یې د لان پو ( lan po ) په نوم یاد کړې ده .

۷ _ ابو ریحان البیرونی په خپل څېړنیز اثر ماللهند کې دا سیمه د لنبکا په نوم یاده کړې ده .

۸ _ حدودالعالم ، تالیف ( ۳۷۲ ) هـ ق یمیني او عبدالکریم سمعانی دا نوم د لمغان په نوم ثبت کړی . ( ۲ مخونه : ۱۵_ ۱۲ )

۹ _ ښاغلی علامه عبدالشکور رشاد په خپل اثر د سیمو په تاریخي جغرافیه کې د لغمان د نوم او الینگار او الیشنگ درو په اړه پوره علمي معلومات نشر کړي دي .

۱۰ _ ښاغلي زلمی هیواد مل په خپل اثر ( جغرافیای تاریخي لغمان ) کې چې په ۱۳۸۳ هـ ش کال چاپ شوی د لغمان ولایت د نوم تاریخي سیر او تشکیلاتو په اړه پوره او علمي څېړنه کړیده .

۱۱ _ لوی تاریخ پوه میر غلام محمد غبار په خپل اثر ( جغرافیه تاریخی افغانستان ) کې د گندهار په بحث کې د لغمان ولایت په اړه معلومات نشر کړي . تیگړي ، مندراوړ او چارباغ یې د گندهارا له مهمو قریو څخه گڼلي دي .

۱۲ _ ښاغلي رازقي نړیوال په خپل اثر دهیواد لرغوني ښارونه او د تاریخ پاڼې دوهم ټوک کې چې په ۱۳۸۵ لمریز کال چاپ شوي د لغمان وجه سیمه توضیح کړي ده .

۱۳ _ ښاغلی شهسوار ، سنگروال په خپل اثر (( افغانستان د تاریخي جغرافیه څرنگوالی ) کې چې په ۱۳۸۳ لمریز کال چاپ شوی . نوموړي کوښښ کړي چې د لغمان ولایت په هر اړ خیز ډول توضیح کړي . ده په دغه بحث کې د نورو یادښتونو تر څنگ د ښاغلي تاریخ پوه پوهاند محمد حسن کاکړ او سر محقق عبدالله بختاني یادونو ته هم اشاره کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لغمان د نوم د لرغونتوب په اړه نور تاريخي اثار هم شته خو د موضوع له اوږديدو څخه د مخنيوي په خاطر د ټول اثارو له يادونې څخه ډډه کوم .

**پايله :**

لغمان په پخوانيو اثارو کې لمقان ، لمگان ، لمپاکا او نورو نومونو باندې ياد شوی په تاريخي اثارو کې د افغانستان د ( ۳۴ ) ديرشو ولايتونو څخه يو ولايت دی چې د لغمان په شهرت کې د دې ولايت لرغونې تاريخ د دې سيمې د خلکو زيرکتيا تاثير لري لغمان د کاپيسا د ولايت جز وه چې د کاپيسا په مدنيت کې د لغمان ونډه با ارزښته وه په معاصر تاريخ کې د دې ولايت ادبی او فرهنگي اشخاص لکه استاد گل پاچا الفت ، سيد قاسم لغمانی چې د لومړي مشورطه غوښتونکو ډلی غړي و . او په ۱۳۱۲ کال بندي شو . نور شخصيتونه هم شته چې په شهرت کې ونډه لري . ( ۲ مخونه ـ ۲۱۴ ـ ۲۱۷ )

لغمان ولايت د تاريخ په مختلفو مرحلو کې د افغانستان د نورو تاريخي سيمو ، په څير د هيواد د کلتور او فرهنگ په بډاينه کې ونډه اخيستي ده . او د دې سيمې اوسيدونکو د ښوونکو په توگه د هيواد په گوټ کې معارف او پوهني په خپريدو کې د پام وړ برخه اخيستي ده .

**مناقشه :**

کوم څيړنه چې د لغمان د نوم د ريښه يې سپړنی تر سرليک لاندې تر سره شوي په څيړنه کې هڅه شوي . د لغمان د نوم لهبه يې او تاريخی ستير په مختلفو امپراتورانو د واکمنۍ او له لغمان څخه د تيريدنی پر مهال مقدونی سکندر او نور د ابادی او محلی ښار گونو د جوړولو او د دې ولايت اداري تشکيلات د پخوا او اوس سره پرتله شوي او ځکه لغمان يو وخت د کاپيسا او يو وخت د مشرقي ولايت په تړون د ننگرهار تر اداري لاندې او په دې وروستيو کې د ځانگړي ولايت تشکيل ور کړل شوي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاد ولایت خلکو په هیواد کې د معارف په پراختیا او پرمختګ ډیره ونډه اخیستې ده. څیړنې ښوده چې د لغمان ولایت د تاریخ په اوږدو کې د هیواد په کلتوري بداینه او پرمختګ پوره ونډه در لوده د نړۍ ستر یرغلګر لکه مقدونی سکندر ، چنګیز خان اوګوډ تیمور د دې سیمې څخه تیر شو او هند ته یې ځانونه رسولي دي .


***Abstract:***

*I would like to write a bout of the old and historical province named laghman in Afghanistan .*

*The well know name laghman seems to be new , however , it is one of the old and historical name , further laghman has come through different stages according to its official administrations , laghman has developed as the other province , in dedd many changes observed in different administration , In fact it has mentioned in different names by different writers , authors and some other famous people within their articles and books so that is should be clear for all the readers that laghman has passed through many periods , finally the old and historical name laghman should be clearly mentioned in different books , articles history books and some other relevant issues a bout which all the reader should know , on the other hand the reader should be confident .*


ماخذونه :


۱ ـ سنګروال ، شهئوار ( ۱۳۸۴ ) لمریز کال د افغانستان تاریخي جغرافیه ثرنګوالي ، الازهر خپرندویه موسسه .

۲ ـ رشاد ، عبدالشکور ( ۱۳۸۴ ) لمریز کال ، د سیمو تاریخي جغرافیه میوند کلتوري ټولنه ، کندهار .

۳ ـ عارض ، غلام جیلانی ( ۱۳۷۹ ) لمریز کال ، د افغانستان د ولایتونو جغرافیه ، ژباړه اورنګزیب ارشاد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ ـ غبـار ، میـر غـلام محمـد ( ۱۳۸۷ ) هـ ش جغرافیـه تـاریخي افغانستان ، مرکز نشراتی میوند سبا کتابخانه .

۵ ـ نړیوال رازقی ( ۱۳۸۲ ) لمریز کال ، د هیواد لرغونی ښارونه او تاریخ پانې ، دوهم ټوک ، میوند خپرندویه ټولنه .

۶ ـ هیواد مل زلمی ( ۱۳۸۳ ) هـ ش جغرافیه تاریخی لغمان ، اداره کتابخانه های سیار اریک .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**